د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت او د نداء الخیر مؤسسې ترمنځ د (۲) لکه او (۵۲) زره ډالرو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو، د دې هوکړه لیک له مخې به، په کندهار، فراه، غور، هرات، کندز، پروان، زابل، فاریاب، هلمند او ارزګان ولایتونو کې (۱۰۰۰) تنو مستحقو یتیمانو ته نغدي مرستې ووېشل شي.

